ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# عیسیٰ پنځهٔ زرو
# له خوراک ورکوی



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرخولے نۀ شئ.

ډېرو مذهبی مشرانو (چې فریسیان وو) د عیسیٰ مسیح په
حقله دروغ ووئیل. ځینو خو د هغهٔ د وژلو کوشش هم وکړو.



هغوئ دا یقین نهٔ
کولو چې هغه
واقعی د خدائ
زوئ وو.

هغوئ هغه
نهٔ قبلولو،
هغهٔ معجزې
وکړې چې دا
یې ثابتول چې
هغه د خدائ
زوئ دے.

یوه ورځ، عیسیٰ د ګلیل دریاب نه پورې وتلو. کېدے شی
چې هغهٔ غوښتل د ګڼې نه جدا شی او لږ آرام وکړی،
ځکه چې خلق به هر وخت د هغهٔ نه
راتاؤ وو. خو خلق ډېر زر هغه
پیدا کړی. هغوئ ته معلومه وه
چې عیسیٰ مسیح لوئې لوئې
معجزې کړی دی. هغوئ
هغهٔ سره پاتې کېدل غوښتل.



عیسیٰ مسیح خپل شاګردان غرۀ ته بوځی چرته چې
هغه کښېني او تعلیم ورکوی. او ډېر خلق ورته
راځی. ډېر زر د روټۍ وخت راشی. هر یو
به اوږے شوے وی.



عیسیٰ مسیح خلقو ته وکوری. د فیلیپوس نه تپوس وکړی، مونږ دې دومره خلقو د پاره د چرته نه روټۍ اخستلے شو؟ ځکه چې خوا و شا کښې د خوراک څښاک څۀ دوکان نۀ وی. د عیسیٰ مسیح منصوبه څۀ وه؟



فیلیپوس عیسیٰ مسیح له جواب ورکړی، دومره خلقو له روټۍ ورکول خو به ډېر ګران وی. ځکه چې عیسیٰ مسیح او د هغۀ شاګردانو سره پیسې نۀ وې.





یو بل شاګرد، اندریاس
(د شمعون پطرو ورور)
عیسیٰ مسیح ته ووئیل، دلته
یو هلک دے چې ورسره
پنځهٔ روټۍ او دوه
واړهٔ کبان دی.



خو په هغې به د دومره ډېرو خلقو څۀ وشی؟ اندریاس نۀ پوهېدو چې د یو وړوکی هلک دومره لږه روټئ څنګه په زرګونو خلق مړولے شی. کۀ هغه هلک عیسیٰ مسیح له خپل خوراک ور هم کړی، خو هیڅ پرې نۀ کیږی.



عیسیٰ مسیح ووائی، خلق کښېنوئ. بیا خلق کښېنی چې تقریباً پنځهٔ زره وی. واه! پنځهٔ زره! په دې کښې هلته موجودې ښځې او ماشومان نهٔ وو شمېر.



بیا، عیسیٰ مسیح روټۍ او کبان راواخلی. هغه وړوکی
هلک به په عیسیٰ مسیح یقین کړے وی. هغهٔ
نهٔ پوهېدو چې عیسیٰ مسیح د هغهٔ نه
ولې روټۍ غواړی، یا عیسیٰ مسیح به
دې روټۍ سره څهٔ کوی. هغهٔ په دا
سوچ کړے وی، کهٔ زهٔ خپله
روټۍ ورکړم
نو زهٔ به څهٔ
خورم. خو هغه بیا
هم خپله روټۍ
عیسیٰ مسیح له
ورکړی.



بیا عیسیٰ مسیح دعا
وکړی. د خدایٔ شکر
وکړی. د پنځهٔ روټو او
دوه کبانو د پاره؟ بالکل،
عیسیٰ مسیح ووائی، د
خدایٔ شکر دې وی، او
په هغه روټی برکت
وغواړی.



د دعا نه پس، عيسیٰ مسيح
کبان او روټۍ ماته کړی او
شاګردانو له ئې ورکړی چې
په خلقو ئې وويشی. دا هغه
وخت وو چې خلقو د عيسیٰ
مسيح معجزه وليده. هر يو
ښه په مړه خيټه روټۍ
وخوری. خو بيا هم هغه
روټۍ او کبان ختم نۀ شی.



چي ټول بنهٔ ماړهٔ شول، بيا هم روټۍ او کبان پاتې شول. عيسیٰ مسيح خپلو شاګردانو ته ووئيل، پاتې شوې روټې راجمع کړئ چي هيڅ هم ضايع نهٔ شی. هغوئ د پنځو روټو د پاتې شوو ټکړو نه دولس ټوکرۍ ډکې کړې.



په دغه ورځ عیسیٰ مسیح د یو وړوکی
هلک روټۍ سره پنځهٔ زره سړی ماړهٔ
کړی. په یو بله موقعه هغه په اوو روټو
او یو څو کبانو سره څلورو زرو نه زیاتو
خلقو له خوراک ورکړی.



کله چې عام طور باندې خلقو دا نښې کتلې، نو هغوئ د فریسیانو په شان غصه نۀ کوله. بلکه هغوئ وئیل، دے یقیناً چې نبی دے چې دې دنیا ته راغلے دے.

هغوئ ته معلومه وه چې عیسیٰ مسیح خلاصوونکے وو چې خدائ پاک یې په خپل کلام کښې د راليږلو وعده کړې وه.



عیسیٰ پنځهٔ زرو له خوراک ورکوی

دَ خدای په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

یوحنا ٦

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"
زبور 130:119

ختم شو

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون وموم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲